لوبې کوم

د هجر شپه ده تورتمونو سره لوبې کوم
له تړمو او سلګو فریادونو سره لوبې کوم

وخته زما په سر دې راوستل د غم وختونه
ځکه دردونو کړاوونو سره لوبې کوم

د مینې کور کې مې رقیب داور لمبې بلې کړې
هره خوا اوږدې سرو اورونو سره لوبې کوم

د دیدن هیلې مې تالا شوې امیدونه خاورې
په غرونو سرېږم هجرانونو سره لوبې کوم

سپرلیه ماته د ګلونو کیسې څله کوې ؟
زه په بهار کې خزانونو سره لوبې کوم

پتنګه راشه سوځېدل دیار په لمبو کې زده کړه
په اور سوځېږم له تانکونو سره لوبې کوم

نصرته زړه مې سره لمبه شوه سر تر پایه وسو
له بې علاجه پرهرونو سره لوبې کوم

د یتیم اوښکې

بل پر مونږه اور دی خو جهان خبرې نه کوي
ولې د انسان په مرګ انسان خبرې نه کوي

جوړ چې قتل عام دی سمه او غر کې سره اوبه وینه دي
وینې څښي پیالو کې خولیوان خبرې نه کوي

ډیر ګلونه خاورې شول لا نور به خاورې کیږي هم
غوږ دي په اغزو خو بلبلان خبرې نه کوي

بل طرد کمون بچو د شمعې به زړه اور د غم
سوځي په لمبو خو پتنګان خبرې نه کوي

جوړه کربلا ده د سرو وینو باړانونه دي
ناست دي ښندلې ته جهانیان خبرې نه کوي

بیا د وخت فرعون انسان وژني څه خوندا خلي
ولې د مظلوم څیرې ګریوان څیرې نه کوي

وینې د اهرڅه، د امنیت شورا، خونه وینې
ناسته پته خوله ده د توپان خبرې نه کوي

هره خوا سپرلی دی خو زمونږ په خونه غم جوړ دی
ښار سوي بلبلان د ګلستان خبرې نه کوي

ډیرې شولې بورې ډیرې کونډې ډیرې ورار شوې
اوښکې تویوي تل یتیمان خبرې نه کوي

ګوره د خالد بچي په اور چې ایسار پرېږنه
سوځي په لمبو خود خپل ځان خبرې نه کويا
ځي د اسمعیل په لار قربان به مال او تن کاندیا
هیڅ د مرګ د ویرې مسلمان خبرې نه کوي
لوستي یې زانګوکې د غیرت او پت د رسوند دي
تیر دي له سرونو افغانان خبرې نه کوي
ناست یې پلېنو رکې او د جنګ سنګرته ورځي!
تا سره نصرت چې یاران خبرې نه کوي،

تېنګ ایمان

منصور ګوري په عشق کې چې د دار په لمن پریووت
خلیل د حق په لار کې د انګار په لمن پریووت
جنګیږم نه ویریږم سر مې لاس کې دی نیولی
خوښیږم چې دردیږم که مې خار په لمن پریووت
هوس مې شهادت دی ځکه مرګ نه بې پروایم
مرګیه راشه زړه مې ستا د لار په لمن پریووت
دا څو ورځې ژوندون به ابدي ژوندنه قربان کړم
خوښیږمه که روح مې د دیدار په لمن پریووت
که سر مې هم له تنه جدا کیږي پروا نشته ...
اوچت به هغه سر وي چې د یار په لمن پریووت
اسلام نه به وانه وړمه الله الله به وایم
نصرته که مې تن هم د خونبار په لمن پریووت

★

★

١٦ / ١٠ / ١٣٦٠

د ثور کودتا

چه په وینو ئې سره کړې بنکلې ناوې د ایشیا ده
دا د سره خزان سیلۍ ده دا د ثور کودتا ده

آسمانونه جوړ تنور دي سره لمبې دي او ویرونه
خپلو غوښو کې سوځیږي د مظلوم انسان هډونه
ښارونه وریت شول په لمبو کې سیني ځیرې په چړو دي
پرهرونو کې شنیږي سره په وینو اندامونه
لوی واړه شول خاوروړلاندې د افغان خونه تباه ده
دا د سره خزان سیلۍ ده دا د ثور کودتا ده.

د ژوندون سینه لړزیږي د ټنیپال بم له هیبته
ولسونه دربدر شول پرګنې شولې بې پته
هندوکش په چیغو ژاړي د سپین غر لمنې سرې دي
د شمشاد لبنتې شوې مړاوې د پامیر شملې شکته
ځکه سره ده غرونه سره دي هم په وینو سره فضا ده
دا د سره خزان سیلۍ ده دا د ثور کودتا ده.

دیوه مړه ده یاران نشته محفلونو کې لمبې دي
بلبل دې ستړي ناست دي دوبې خاوړو کې غوټۍ دي
زانې سوځې په هواکې زړکې شکو کې سپیرې دي
دشپونکي خوږه شپیلۍ کې نن د مرګ او ویرنارې دي

سپوږمۍ مخ وریځ کې پټ کړی کتی نه شي ناروا ده
دا د سره خزان سیلۍ ده دا د شور کودتا ده

نن د پیغلو وربلونه په سرو وینو لمبیدلي
د ځوانانو شملې ګورې په لحد کې غورځیدلي
د بګرام ترکې ژړیږي د مینو پر قبرونو
د حاجت یې نشته پرې سرې وینې بهیدلي
د سرو وینو فوارې دي زهرجنه شان فضا ده
دا د سره خزان سیلۍ ده دا د شور کودتا ده

هرې خواته لیدل کیږي په ترپکو اندامونه
د چا سترګې ړندې شوې د چا مات ښپې او لاسونه
څوک په سرو وینو لمبیږي غورځیدلي پرې سور شال دی
څوک به خاورو کې تر پیږي قلم شوي یې سرونه
دا د سرو قصابخانه ده دا د ظلم انتها ده
دا د سره خزان سیلۍ ده دا د شور کودتا ده

نن هغه هډوکي اوړي د نارنج چې به میلې وې
ګل غوټۍ ده او غونډۍ ده چې یې ښکلې ننداري
ماهیر کې وینې خاځي د پغمان او به همسایې دي
ګل سرخ په وینو سور شو چې د نجونو یې دیرې وي
بس ماتم دی هرې خواته فریادونه او ژړا ده۔
دا د سره خزان سیلۍ ده دا د شور کودتا ده

څوک به وتو مبې ګلونه تور وزلفو د اوربل کې

د نرګس غوټۍ به کېږدي کوم يو ځوان د پګړۍ ول کې
تا به پټه تاردې ګرېوانونه زړونه چاودي د درشل کې
څوک به وخاندي يو بل ته د يارانو په محفل کې
چې بهار پرېږې نازېدلونن هغه خزنه ستاد ده
دا د سره خزان سيلۍ ده دا د شور کود تاده
نن هغه سترګې نږدي دي چې کاته وکړي ګلزارته
نن هغه احساس ويده دی چې خندل به يې بهارته
نن هغه ژبې ګونګې دي چې تبريک ورکړي ماليارته
نن هغه ګوتې دي ماتې چې غزل وليکي يارته
مينه مړه ده، حسن خاورې، د ژوندون کډه په شاده
دا د سره خزان سيلۍ ده دا د شور کود تاده
طوفانونه د شمال دي له قطبي د بنستو راپورته
شمع مړه ده سر نهالښته توره شپه ده هر پلو رته
هره خواشور او سلګۍ دي هره خواوير او ژړا روي دي
ګوره ګوره نړېوالو د روسانو ظلم زور د ته
د ماتم وږمې خبرې دي انګولا ده او غوغا ده
دا د سره خزان سيلۍ ده دا د شور کود تاده
د ژوندون بيړۍ غرقېږي د مرګي سراو ن وباړده
د افغان خونه تالا شوه سو ځېدلي په انګار ده
جنازې د افغان وځي د روسانوله ستمه
مرګ ترل کا هم سيزل کا دا خاصه د استعمار ده

افغانان سوځي لمبو کې جوړه شوي کربلا ده
دا د سره خزان سیلۍ ده دا د شور کودتا ده

دا د روسي بشر دوستان ابن انسانان سیزي لمبو کې
دا د امن مدعیان ابن افغانان سیزي لمبو کې
دا د سولې پلویان ابن تول جهان سیزي لمبو کې
لوي وا هم سیزي لمبو کې زوړ او ځوان سیزي لمبو کې
تور مرام يې څرګند شوی سره خیره يې هم سهوا ده
دا د سره خزان سیلۍ ده دا د شور کودتا ده

خونړونې مؤمن ملت به استعمار سره جنګیږي
ښځې نر به مو به مینه دغه لارکې قربانیږي
سنګرونه به رنګین کړي د سرو وینو په ګلونو
قربانۍ ته راوتلي له مرګي نه نه ډاریږي
سره بلا ګورې چې تښتي د مرګي نه وارخطا ده
دا د سره خزان سیلۍ ده دا د شور کودتا ده

سوزنبا مار به غرپ غرپ دي د مرګي به پوله سپوړدي
ستر غوږ ځنګ د برګنو دي به غلیم بل شوي اوس دی
ترمسکو به خلاص نه شي افغانان تول پا څیدلي
د کارګر لاس کې خټک دی د بزګر به لاس کې لور دی
کمونیزم محوه کیږي د رنو تورو خرپا ده
دا د سره خزان سیلۍ ده دا د شور کودتا ده

پیوستون د مؤمنانو به صف مات کړي د دهریانو

انتقام اخلي د وینو دا د وخت له فرعونیانو
غوڅوي پوښتنې غوبړونو د تاریخ له قصابانو
ماتوي دا توبرې داسې د دې عصر د لیونو
د اسلام دیوي بلیږي تورو شپو زیاتي صباده
دا د سره خزان سیلۍ ده دا د شور کوډتاده

د سرو وینو په بدل کې به آزاد افغانستان شي
د جهاد ګرم سنګرکې به نابود سره روسي بوڅیان شي
سور شیطان به ای نصرته د تاریخ کندوته لوېږي
د توحید جنډه به پورته د نړۍ په هسک آسمان شي
نن د حق او باطل جنګ دی کامیابي د حق برخه ده
دا د سره خزان سیلۍ ده دا د شور کوډتاده

ناصرباغ

۱۷/۴/۱۹۸۵

سرې لمبې

په تا وطنه نن د سرو وینو باران جوړ دی
کلو، بنار وکي دې د وخت دغلو تالان جوړ دی
ستا سر د سرې په اور ستي شوي سرې لمبې دي پکې
په سم او غرا او زې بموـنه زلزلې دي پکې
گلونه خاوره وکې پراته دي چمنونه شاړ شول ـ
نن د سپرلي په ځای خزان دی توره شپې دي پکې
په هره خواکې دی ماتم آه وسوران جوړ دی
کلو، بنار وکې دې د وخت دغلو تالان جوړ دی
په ظلم وینې تویوي تل ستا په بـاکـه لمن
کفر و الحاد ایښی قدم ستا په بیساکه لمن ـ
د اور لمبې دي خپرې شوې جهنم جوړ دی
بوسې وحشت کړې یرغل ستا په خپلواکه لمن
جوړه له تانه قتل گاه ده سور توپان جوړ دی
په تا وطنه نن د سرو وینو باران جوړ دی
ماشومان وژني په خانگو کې قصابان راغلي
فصلونه سیزي په بمونو بمباران راغلي
د کونډو ورار و یتیمانو فریادونه جوړ دي
انسانان وژني قتل عام ته سره لیوان راغلي

یوڅه درنو لوستونکوته

له هغې راهیسې چې زموږ داسلامي هیواد پر تاریخ دکمونیزم توره پاڼه ورزیاته شوه نو زموږ بې دفاع اوتش لاسي ولس د ډیرو ترخو او غمناکو حالاتو سره مخامخ شو، بې دینه کمونستانو دخپلو باداراڼو په ملاتړ زموږ دمسلمان او مظلوم-ملت دمحکومولو او زموږ دخپلواک اصالت دختمولو په خاطر داسې ناوړې او ناکردې پیل کړې چې په لیکلو به ئې هر بشر دوست او د حساس ضمیر خاوند داوښکو پرځای وینې توې کړي او د دغو ناروا او غیري انساني اعمالو په لید او اورید وبه ګوته په غاښ پاتې شي.

روسانو نه یوازې د بین المللي قوانینو او سوله ایز ژوند داصولو پرخلاف زموږ آزاد او مستقل هیواد پخپل نظامي یرغل او تیري سره اشغال کړ ترڅنګ ئې زموږ مادي او معنوي شتمنۍ او پانګې هم چور او لوټ کړې او په نظریاتي لحاظ ئې هم زموږ فرهنګي اصالت-او ایډیالوژیکي مسیر تر فشار او تهدید لاندې راوسته، خو له ښه بخته چې دهغوی ټولې له شرمه

ماتم او ویر دی نن د سور کفر خزان جوړ دی
کلو، ښاروکې دې د وخت د غلو تالان جوړ دی
ستا پر ځیانو د سکروټو بارانونه کېږي
پر ښځو، نرو د راکټو ګوزارونه کېږي
د وخت چنګیز توره ایستلې ده مرګونه کېږي
ستا په سینه کې جوړ محشر دی سخت ظلمونه کېږي
وای نصرت د کربلا سپیره میدان جوړ دی
کلو، ښاروکې دې د وخت د غلو تالان جوړ دی

۱۸ / ۶ / ۱۳۶۳

(۱) بمبارونکی

کفر سره جنګ غواړو

موږ د خپل هیواد نه ځاړېدل نکه پتنګ غواړو
جنګ غواړو له کفر سره جنګ غواړو

موږ په سرو وینو خپل وطن ځانته ګټلی شو
موږ خپله خاوره په خپل مټ آزادولی شو

موږ نه امریکا غواړو نه روس او نه فرنګ غواړو
جنګ غواړو له کفر سره جنګ غواړو

موږ خپل سرنوشت ټاکو د جنګ په سنګرو نوکې
نه منو دښمن سره خبرې په میزونو کې

موږ له پردو شاته له خبرو څخه ننګ غواړو
جنګ غواړو له کفر سره جنګ غواړو

موږ به د ایمان په زور زغلیم سره جګړه کوو
موږ به په میدان کې د راتلونکي فیصله کوو

موږ ره خپله خاوره خپلو وینو باندې رنګ غواړو
جنګ غواړو له کفر سره جنګ غواړو

موږ د بل په خوښه د خپل ځان فیصلې نه منو
موږ سیاسي حل په نوم سازش اردوکې نه منو

نه له چا نه توپ او نه ټانګونه نه تفنګ غواړو
جنګ غواړو له کفر سره جنګ غواړو

قانون زموږ اسلام دی

روان یو لاس ترلاسه یو هدف یو موږ مرام دی
قانون زموږ اسلام دی

مؤمن د مؤمن ورور دی داد پاك الله كلام دی
قانون زموږ اسلام دی

د یو بل نه ځاریږو هیڅكله نه بېلیږو
وحدت باندې خوښیږو
ولاړ یو په یو صف کې یو سنگر یو موږ زمام دی
قانون زموږ اسلام دی

موږ ټول یو سره ورونه - دیو تن اندامونه
شریک موږ دي دردونه
نفاق به موږ کې نشته لوی ورکړی قیام دی
قانون زموږ اسلام دی

په حقه لار روان یو - لښکر د پاك سبحان یو
اسلام ځنې قربان یو
جهاد موږ ځكه لاره اسلامي زموږ شعار دی
قانون زموږ اسلام دی

تباه به دښمنان کړو - نابود به سره روسان کړو
هلاك به دادهریان کړو

الله ج باندې راده یو هر غلیم موتل ناکام دی
قانون زموږ اسلام دی

قربان به شوله دینه - کړو ځان به ترینه وینه
جنګیږو به په مینه
نصرت ته نن دلویو او وړو دغه پیغام دی
قانون زموږ اسلام دی

ځلوریزه

تا چې هر څه کړل دښمنه زما شوک
هم کوې راسره هر وخت بد سلوک

نور نو زه درته کرار کښینا ستی نه شم
کږه خوله به درته سمه کړم په سوک

سکروټې

ويارم ويارم چې د خدای ځ په لاري سر خورم
پروا نشته وي که غشي په ځيګر خورم
بُت خانې د ننګ و ديانو ړنګومه
په ميړانه هر طوفان سره ټکر خورم
د حمزه غونډې ور دانګمه ميدان ته
که هر څو مې پرهرونه په تبر خورم
له غليم نه به پرشا نه شم ميدان کې
که غوټې هم د مرګي په سمندر خورم
د احد احد ناري به مدام وايم
که پر زړه هم ګوزارونه د خنجر خورم
فرعونيان که امتحان د مينې غواړي
سرې سکروټې به په مينه د دلبر خورم
د برستې مرګی نه غواړم له خدايه
زه نصرت به د مرګ غشي په سنګر خورم

سباوون

اوسم د ننگو د ننگو غرو په غیږ کې
د ګران هیواد د سرو په غیږ کې
د قصر او راوبستر نه پیژنم
یمه خوشحال د سنګرو په غیږ کې
توره تر ملا په دین غزا کومه
کفن په سر د سرو ملبو په غیږ کې
پر غلیمانو زلزلې راولم
د پولادي ټانک او جهاز و په غیږ کې
د تکبیر غږ مې ملحدان لړزوي
هم د مسکو او د وارشو په غیږ کې
د سباوون دیوې به بلې کړمه
د سره وحشت د تورو شپو په غیږ کې
نصرته رابه شي سپرلی د ژوندون
د ازادۍ خوبنوو دنوموپه غیږ کې

۳۱/۸/۱۹۸۵

یونیورسټي - ټاون

بل مثال

مال و سر مې له اسلامه قرباني دي
خوږ ژوندون د شهادت جاوداني دي
د نر پرستۍ مرګ ځوانانو ته پېغور دی
د عزت مرګ د جهاد په میداني دي
چې پتنګ غوندې له دین نه لوګی نه شي
عاشق نه دی نفساني دی نفساني دی
د حمزه په څېر پر زړه زخمونه غواړي
د جنت منزل خو خدای پرو ایماني دی
نېکمرغي د آخرت را کړې خاونده
د دنیا ژوندون خو ورځې دی فاني دی
که هم دین او هم دنیا غواړې نصرته
بل مثال د دغې لارې قرآني دی

اوښکې

سترګې مې هر دم له اوښکو ډکې دي
خدايږو د ستم له اوښکو ډکې دي
څنګه راته وايې سترګې پاکې کړه
تورې شپې د غم له اوښکو ډکې دي
اوس به تول څنګه را په خندا کړي
وريځې د ماتم له اوښکو ډکې دي
سوځي بلبلان ګلونه خاورې شول
څانګې د شبنم له اوښکو ډکې دي
جوړه کربلا ده سره اور ورونه دي
سترګې د عالم له اوښکو ډکې دي
سرې وينې بهيږي قتل عالم جوړ دی
خاورې يې د غم له اوښکو ډکې دي
ځکه زه نصرت د غم کيسې ليکم
نوکې د قلم له اوښکو ډکې دي

د سنګر خبرې

راځه د سحر باده د سنګر خبرې وکړه
په غوږ کې راته غلې د دلبر خبرې وکړه

په ځمکه یې بخمل چې د سرو وینو غوړېدلی
د هغه خوږ وطن د بحر و بر خبرې وکړه

په ګلو څه تېرېږي د بلبلو به څه حال وي
سپرلی دی، که خزان، د سره محشر خبرې وکړه

فضا کې سرې لمبې دي که د زړونو کتاروونه؟
خیرېږه د ګور ګور روا و لښتر خبرې وکړه

نارنج او ارغوان ګلونه شته که رژېدلي؟
منګي دي که نمونه د ګودر خبرې وکړه

شبنم په وطن اورې که سکروټې راورېږي
تېرېږي به پرې څه د سم و غر خبرې وکړه

په مینه به یاران محفل کې یو بل ته خندا کړي
که جوړ به وي قیامت د شور او شر خبرې

د پېغلو سپین لاسونه په نکریزو باندې سره دي
که سره دي په سرو وینو د اختر خبرې وکړه

سپوږمۍ او ستورې شته او که ګردونو کې ډوب شوي
خندا ده که ژړا د لرا و بر خبرې وکړه

دزړکوترانې دي که غرهاردی دتاسنگو ــ ــو
دسرو وحشي پوځونو دشر رخبرې وکړه
شپونکي خپله شپیلۍ کې د پامیر سندرې وايي
ماتم دی که موسکا دسپین سحر خبرې وکړه
هلمند ، هرات ، پکتیا او ننگرهار کې څه تیریږي
کابل ، پروان ، غزني او دلوگر خبرې وکړه
سپین غرنه تر تورغره هندوکش نه تر خیبره
فیروز د سلیمان او هر یوغر خبرې وکړه
تالاده که ودانه نن د «بیت نیکه» جونگړه
«احمد» او د «محمود» د زړه دسر خبرې وکړه
«نصرت» د افغاني جمال «په قبر کې ژړیږي
«خوشحال» ته د روسانو د لښکر خبرې وکړه

۱۹۸۵/ ۱۱/ ۲۹
ناصر باغ

دکې هلې ځلې په بشپړه او کامله توګه شنډې
او ناکامې پاتې شوې او وې نه شو کولای چې د افغانستان
پر مؤمن او مجاهد ولس خپل فرهنګي استعمار تحمیل کړي
او خپله بې اساسه او پوچه نظریه پرې ور-
وتپي نو هغه وو او وجه وه چې روسانو د خپلې دغې لوبې ناکامۍ
په احساسولو سره وغوښتل چې خپل وحشیانه او شوم
اعمال ورو ورو سرحد ته ورسوي او په عمومي
وژنو او بې امانه نظامي عملیاتو یې د دې لپاره پیل-
وکړې چې وکولی شي زموږ د خدای پرست او مسلمان ولس
په وژلو او لمنځه وړلو سره ورته د اسلامي افغانستان د
پوره تشکیل او اشغال لاره خلاصه شي او په اسانۍ سره
دغه اسلامي خاوره په خپلو سیاسي اقمارو کې راولي
او په دې توګه د نړۍ په پرمخ خپلې پوځي اډې زیاتې او
خپل سیاسي بلاك پیاوړی او مضبوط کړي اوس نو چې
روسانو د مرګ، ژوبلې شوم غوبل پیل کړی دی او د هغه
له سترګو څخه پټ نه دی او د ګران افغانستان لویشت
لویشت خاوره د بې ګناه او بې دفاع افغانانو په وینو لمبېدلې
ده، داسې ښار، بازار، کور، کوڅه، حتی هیڅ ځای نشته
چې د سره ومې بشر دوستانو! دامن د مدعیانو! او د-
سولې د بیرغیانو! د ارکټ او د نیپال سوغات نه وي
ور رسیدلی او د کمونیزم د وحشت په لمبو نه وي

زه هغه افغان یم

ه هغه اتل یم تاریخونه مې کیسې کوي
ای ساده دښمنه ولسونه مې کیسې کوي

ه د هر غاصب او هر جابر دستګو خاریمه
لوړه کارنامې مې دښتې، غرونه مې کیسې کوي

د وطن خاوره په سرو وینو خړوبه کړې ده
وګوره لاله، غاټول ګلونه مې کیسې کوي

ه د خدای په لار کې مال او سر قربانولی شم
هره ادیره کې بیرغونه مې کیسې کوي

ه د روسیې زړه ته په میړانه ورختلی یم
دروغ نه دي خرقه او یادګارونه مې کیسې کوي

ادمکناټن په خیر له تیغه تیر تیر کړي دي
نن دانګریزانو اولادونه مې کیسې کوي

ر غلجي محمود دی هره پیغله مې ملاله ده
وګوره د نجونو سره لاسونه مې کیسې کوي

ات مې مرهټیان کړل، هند دیلي مې فتح کړې دی
ځکه پاني پت او نور جنګونه مې کیسې کوي

ه تر اصفهانه پورې تللی په ظفر یمه
ځکه د تاریخ رنګین بابونه مې کیسې کوي

اوس مې هم د وخت يولوی شيطان په ګونډ وکړی دی
د ښتوکي ويجاړ روسي تانګونه مې کيسې کوي
تورې او ميرانې مې روسان وارخطا کړي دي
ننګه په رود ا ويراخبارونه مې کيسې کوي
هره سنګر کې مې پرا ته دغليم مړي دي
جوړ پرې د کارغانو اتڼونه مې کيسې کوي
بلې مې پر ميګ او پر ګنشپ ورته لمبې کړلې
سوي په سور اور پراته جهازونه مې کيسې کوي
لاس د بحر هند يې بحر خوني باندې بدله شوه
سره د روس په وينو بيابانونه مې کيسې کوي
زه همغه افغان يم چې مؤمن يم مسلمان يمه
ښکه د نصرت خوږ شعرونه مې کيسې کوي

دحق سنګر

مونږ مؤمنان يو د ژوند ون مثال قرآن دی زمونږ
ستر محمدﷺ موستر پيشوا په خدایج ايمان دی زمونږ
دحق سنګر مورچه نيولی د باطل پر ضد-
د خدایج په لاره کې شهادت د ژوند آرمان دی زمونږ

لمره!

د یار پښتونخوا په بخت وپړ یوځه لمره
له امونه ترسپین غره تر خیبره

د بنارونو په هور وشینده لاالونه
تاوراتاو شه د بخدي له لراوبره

د پامیر د سر شپونکی پرتندئ بنکل کړه
راوچت شه د ننړۍ د بام له سره

د وطن ناوې سور شال په مخ خپور کړي
ځان قربان شه د غازي افغان له دره

د لرغونی تمدن زانګو لسو تیږي.
ویښ، ناورین شه د غلیم روس په ککره

د نصرت هیواد له سر وسکر وتږ ک دی.
سپیلنی شه د جهاد له سره سنګره

واوښتل

په زړه مې د غمونو انبارونه واوښتل
بارونه واوښتل د غم بارونه واوښتل
چې راغله میخانې ته د بشر د وینو تږې
ساقي له قهره سور شو ترې جامونه واوښتل
وطن مې سره لمبه شو د بمونو په سکروټو
په بل غځ لوټې لوټې مې کورونه واوښتل
لسر زیږي آسمانونه د نیپالم له هیبته-
ښکور په غځ د ځمکې اوچت غرونه واوښتل
شبنم چه یې په مینه ښکلې شونډې ښکلولې
په ګلو د چمن خاورې ګردونه واوښتل-
د ظلم سمندر له ډیره وحشته باغي شوي
نړۍ ته یې هر لوري یرغلونه واوښتل
د ژوند لاره نیولې غلچکو د لوټ په تمه
په ښار و میرو ځکه کاروانونه واوښتل
بېړۍ توپاني شوې ده نصرته خدایه خبر کړې
په مور ګولهم خدایږو چې موجونه واوښتل

نا کام ژوند

که ژوندون نو ژوندون دی د اسلام ژوند
مرګی زر ځله بهتر دی تر غلام ژوند ۔
د زمری غوندې همت ځانګې پیدا کړه
غوره نه کړې ډګیدړ غوندې نا کام ژوند
که د زړو په تخت کښیني واک د بل وي
ورکوه یې ورکوه یې لاس په نام ژوند
بندګي د بندګانو پکار نه ده ۔
تیروه د الله لاره کې تمام ژوند ۔
ای نصرته سر د خدائ لار کې قربان کړه
که پکار دي وي جنت کې خوب ارام ژوند ۔

سوګند

خو ژوندی یم خو می ساه وي لا په تن کې
سر به کیښږدم غلیم ته په کفن کې
بیا پر قبر راته بلې سرې لمبې کړې
که مې نه وو پرهر ونه په بدن کې

الله اکبر

زما د قام واړه زاړه واړه په ویر پراته دي
په هند وسند وپېښور او په کشمیر پراته دي
زما پر ملک لمبې بلیږي د ککرون سوغات دی
څوک د تیا نک لاندې څوک د دار په لوی زنځیر پراته دي
څوک شهیدان څوک یتیمان شول څوک ژوندي بنځیري
ډیر د څرخي پله په زندان کې لا اوس تیر پراته دي
د چالاسونه د چابېي، سترګې لاسونه نشته
په خپلو وینو کې شتمیرې ډیر زهیر پراته دي
له شاه شجاع نه یې تاریخ هم په بد نوم یادوي
سره زنځیرونه چې په غاړه د خنزیر پراته دي
دین او وطن یې په روس خرڅ کړل په ناموس څکوي
د خلق، پرچم ټولي په غیږ کې د تکفیر پراته دي

نصرت ته الله اکبر وایه ورځه ور پسې
سنګلي کابل کې دلنشین بچي شرین پراته دي

۱۱، ببرک کارغل

غلامي

د هغه ژوندون به څه مزه او خوند شي
چې انسان یکې د بل ښځوکې بند شي
توبه کار له تخت وتاج د غلامۍ یم
که مقام مې هم سکندر غوندې بلند شي
چې اختیار یې د ژوندون وي د بل لاس کې
داسې خلک به تاریخ کې څه څرګند شي
بنده کې خو دیوه الله ج پکار ده -
چې بنده د بند ګانو شي نو ګند شي
هر پیوند له خپل پیوند سره ښایي
نوم یې ورک شي چې په نورو کې پیوند شي
د پردو په لار به نه درومې هیڅکله -
اې نصرته که څوک بوه ستا په دې بند شي

۱۹۸۵ / ۳ / ۲۵

ناصر باغ

اسلامي تحریک

په سر او ینو به آزاد افغانستان کړم
کمونیزم به نابود په ټول جهان کړم
په تش لاس دلوی طاقت سره جنګیږم
د تاریخ کنده کې ښخ به سور شیطان کړم
دهریت، کفر والحاد تغر به ټول کړم
په نړۍ کې به حاکم درب قرآن کړم
اسلامي تحریک به خبور کړم ټول جهان کې
نیست نابود به د مارکسیزم پیروان کړم
هاله خدایه سره کړې د اسوګند دی
چې به سر ده ځ په لاره کې قربان کړم
که غلیم رانه ژوندی لاړ له میدانه -
بیا به نوم له ځانه لرې د افغان کړم
شو نصرت د اسلامي دیوې پتنګ لیم
خیر که سوځم د اتیارې به چراغان کړم

۱۲ / ۵ / ۱۹۸۵

نوبهار

ستر پیشواته

ستا په راتګ دغه تیاره نړۍ روښانه شوله
دظلم زور او بربریت دنیاګۍ ورانه شوله
انساني نسل و روان د کړېکو نو په لور.
د شرک او کفر په تیارو کې د اورونو په لور.
د بدبختۍ او هلاکت د طوفانونو په لور
د ژوند بیړۍ خلاصه د وخت له هر خزانه شوله
دظلم زور او بربریت دنیاګۍ ورانه شوله
په مځ د ځمکې انسانانو فسادونه کول ـ
قتل و قتال و، ناروا خلکو مرګونه کول ـ
توپیر، تبعیض او یو تر بله یې جنګونه کول
چې ته پیدا شوې هره سخته مراسانه شوله
دظلم زور او بربریت دنیاګۍ ورانه شوله
تا بشریت ته هلاکت څخه خلاصون راوستو
د تور او سپین ترمنځ دې مینه پیوستون راوستو
د غیر الله له غلامۍ نه دې بیلتون راوستو
د زمانې بیړۍ په امن له توپانه شوله
دظلم زور او بربریت دنیاګۍ ورانه شوله
تا انسانانو ته د ژوند خوابه رازونه راوړل

د سعادت او د نجات دي پیغامونه راوړل
تاد توحید او حقیقت بل مشالونه راوړل۔
ستا برکت و د انسان خونه و دانه شوله
د ظلم زور او بربریت دنیا گی ورانه شوله

ورکړ بشرته تا د رب د پیژندني سبق
مینې ، خلوص او یوتر بل د خا ید ني سبق
د حق په لار کې د ایثار او سربښند نې سبق
په سمه لار موقافله د ژوند روانه شوله
د ظلم زور او بربریت دنیا گی ورانه شوله

۱۹۸۴ / ۱۲ / ۱۳

ناصر باغ

نه وي سوځېدلي په ټول افغانستان کې يې په مرګ
ژوبلې او انسان وژنې سره ورځ جوړه کړې ده چې له
دښتو او ښارونو څخه د اور لمبې او د ويرناري پورته
کېږي، او شهيدان دلې دلې د ابدي ژوند او د الله ج، د رحمت
په لور ليږدي، لوی او واړه په خپلو وينو کې ترپکې وهي
او د خپل خلاصون لپاره لوڅې پوڅې کوي، روسي وحشي-
جلادان، ښځې، او نارينه ځوانان او بوډاګان په پوره
بې رحمۍ سره ژوندي په خاورو کې ښخوي او پرسينو يې ټينګې
او برچې ورمنډي او د ټانکونو غوبل پرې کوي او بالاخره
د روس د مظالمو او انسان دښمنيو پر بربنډ ولو خو کتابې
نه چې کتابونه د کيږي خو څومره چې د يوه دردېدلي او-
متعهد ځوان افغان په توګه به مأموريت اره لري چې نو-
زما احساسات او منتقمانه عواطف به درانه لوستونکي
زما به دې کوچنوټې مجموعه کې ولولي که څه هم له دې
نه عاجزه وي چې د روسي وحشي او ښاروپو څخونو او-
د کمونيزم د تالي څټو ګوډاګيانو او بربڅو، مظالمو وحشي
ګريو او بربريت څخه پرده پورته کړي، خو، مشت نمونه-
خروار، څه ناڅه يې د پورتنيو فجايعو او انساني ضد اعمالو
غند نه ضرور رشوي ده، او تر يوه حده پورې د روسانو
مظالم، ناروا او له شرم او نفرت نه ډک عملونه په ګوته شوي
دي، نو له محترمو لوستونکو څخه هيله لرم چې زما د غې مجموعې

د توحید ځاله

ای د اخوت خاورې تا نه زه قربان شم
ای د ننګ خاورې تا نه زه قربان شم

ته د ننګیالو کور | ته د سرباز انو کور
تا کې شنه زمری اوسي | یې د ماتورانو کور
ته یې د توحید ځاله | یې د مؤمنانو کور
ته د خدای پرستو کور | ته یې د زمریانو کور

دکې له عظمت خاورې تا نه زه قربان شم
ای د ننګ غیرت خاورې تا نه زه قربان شم

ځان به ستا په مینه کې | مونږ مال او سر ونه کړو
تا به تل خروب ساتو | ځان به درنه وینه کړو
مونږ به قرباني ورکړو | تا به پری رنګینه کړو
تا نه سپیلني به شو | خوبنه به ستا مینه کړو

ساتو به ستا پت خاورې تا نه زه قربان شم
ای د ننګ غیرت خاورې تا نه زه قربان شم

مونږ کړې ده نیولې ده | ستا دازادی لاره
ستا د پت عزت لاره | ستا د نیکمرغی لاره
پری به نږدو هیڅکله | داد قربانۍ لاره
ستا د ترقی لاره | ستا د سرلوړیه لاره

ګراني د نصرت خاورې تا نه قربان شم
ای د ننګ غیرت خاورې تا نه قربان شم

څلوریزه

مسلمان یم نه ویریږمه له اوره
له ټانکونو، طیارو او له هر زوره
سر او مال به د خدای لارکې صدقه کړم
تل به وایمه د حق ناری په زوره

افغان سوځي

د روسي وحشت په اور کې جهان سوځي
ځمکه سوځي، غرونه سوځي، اسمان سوځي
هر چمن باندې سکروټې راوریږي
مالیار سوځي، بلبل سوځي، ګلان سوځي
سر د رونه شنې لوخړې پورته کیږي
هره خواد او ربلې دي، افغان سوځي
د نیپالم په بمونو وطن وران شو

هرات سوځي کونړ سوځي، بامیان سوځي
له اسماره ترچترال او بریکوټه -
د شیګل خواکې سره نکین نورستان سوځي
له برکوټ او دره نورآن ترکشمونده
الیشنګ تر الینګاره کلمان سوځي
د پنجشیر سره درې تولې لولپه شوې
د کمونه په اور لوګر او لغمان سوځي
سر ولیوا نو جوړه کړې کربلا ده
واړه سوځي، زاړه سوځي، ځوانان سوځي
د ماتم و ریځې خپرې دي په آسمان کې
د وحشت په سر ولمبو انسانان سوځي
ننګرهار او کندهار کې سرې لمبې دي
بلخ، تخار، فراه کندوز او بغلان سوځي
په کابل د سرو اورونو باران جوړ دی
شیوه کي، بالاحصار او پغمان سوځي
ګل غونډۍ د اور غونډۍ شوه ورته ګوره
ګل دره، شکردره تول یوشان سوځي
د هډې تپه د زوړ تاریخ موزیم و
اوس په اور باندې تاریخ دانسان سوځي
استالف باندې اورونه لګېدلي
هم زابل، کلات، وردګ او میدان سوځي

نیمروز، ګوری سره لمبه شو په بمونو
بادغیس سوځي، تالقان او پروان سوځي
پکتیکا داو رلمبو باندې ستي شوه
دره صوف او هم زیبا سمنګان سوځي
د هلمند ځمکه تبې غوندې سره شوې
دښتې، غرونه یې داو رپه باران سوځي.
د ښار ونو مورستي شوه په بمونو
په بموام البلاد د جهان سوځي
د غزني پرسینه بلې سرې لمبې دي
نن زانګو د غزنوي همه ارمان سوځي
د پکتیا ځنګلونه او رباندې ایرې شول
خاځي سوځي، منګل سوځي، ځدران سوځي
د نارنج ګلونه خاورو کې پراته دي
هم په سرو لمبو رنګین ارغوان سوځي
ماهیپر کې د سرو وینو فوارې دي
په نغلو او درونټه کې کبان سوځي
د هیواد شتمني ټوله چور او لوټ شوه
نن په اور لعل وګوهر بدخشان سوځي
ای نصرته هر خوا اور دی او ویرونه
سرو لمبو باندې زاړه او ځوانان سوځي

د شاهين ځاله

د شاهين په ځاله ناست نن تپوسان دي
«که په ځانګو څند روښاماران دي»
تورکارغه نن په ګلشن حکمراني کا -
په سلګو څکه هرلوري بلبلان دي
ای سپرلیه لږ دمیني نظر وکړه -
تور وخاو روکي پراته رنګين ګلان دي
سړي لمبي دي شني لوخړي پورته کیږي
هري خواته په اور سوي پښتګان دي
ستوري څکه تر سحره ويده نه شول
سره اوړونه بل پرخونه د افغان دي
سپوږمۍ سترګي کړي د وريځ په ځوتوري
سيلاب تو نه د سرو وينو راروان دي
د شهيد د پرهرونو رنګيني ده
هسي سره چي شفقونه د آسمان دي
دا لاله ګلونه نه دي چي ښکاريږي
په اور سوي اندامونه د انسان دي
د نصرت ترقلم وپني ځکه څاڅي
په زړګي يي جوړ داغونه د هجران دي

۳۰/۱۱/۱۹۸۵ - کوز تهکال.

غمونه

نن یمه یواځې دجهان غمونه دي
یو مې دخپل ځان بل دجانان غمونه دي
غم ته پیدا شوی یم په غم کې راګیر شوی-
ځکه را ته ډیر فراوان غمونه دي
سترګې مې وختونو له ګردونو ایرو ډکې کړې
غم له پاسه غم دی په هر آن غمونه دي
خدایه ته مې مل شې تو پانونو کې ګیر شوی یم
یو د رقیب غم بل د هجران غمونه دي
لار د منزل مې له تیرو اغزونه ډکه ده
مخکې مې پراته کاروان کاروان غمونه دي
غم پسې بل غم وي یو غم ځي بل غم راځي
غم دی، غم دی، غم دی بې پایانه غمونه دي
څنګه به مې خلاصه شي بیړۍ له ګردابونه
یو د سمندر بل د طوپان غمونه دي
ختم به نصرته په مرګې دغه غمونه شي
دې پسې د حشر د میدان غمونه دي

چمن وسو

په سرو لمبو مې روح او تن وسو
زما د گل پشان وطن وسو
د سره بنګيلاك د استبداد لمبو کې
بلبل، بوړا وسو، ګلشن وسو
د شهيدانو قافلې دي هر لور
په اور د زور او ځوان بدن وسو
د کمونيزم بې رحمى له لاسه
زما عدن زماختن وسو
چې ما د زړه په وينو وپاللو
هغه د سرو ګلو چمن وسو
په سرمې کانې راورينږي داور
زما د پلار، نيکه مدفن وسو
لا به ځوانې لې غم کې خاورې شوله
چې د نصرت بنګلی مسکن وسو

۱۹۸۵ / ۲ / ۱۰

سپین غرته

په سپینو واورو تکه سپینه غره
هسکه شمله دې چاته ښکته شه
د ګران هیواد په ننګ د حسن خاله
د مینې ناوې دې بې پته مه شه

ګوره آسمان درته له خپلې غېږې
ښکلې پوړنې د نقرې درکوي
ستا په سینه رنګین لعلونه شیندي
تا ته سوغات کې شنې جامې درکوي

زمانه ستا پالل په مشکو کوي
په نور وربل ته ګلونه ټومي
ستا سر د روکې جوړ سپرلی وي مدام
پر ډنګو څوکو دې لالونه ټومي.

فلک پر تا دومره پېرزوکا څکه
ته د مؤمنو پر ګنو خاله یې
ستا لوړو ترو کې زمري او سېږي
ته د سرتیرو ننګیالو خاله یې

چې تا سره خونه یې په نوم نازیږي
تاکې له ننګه ډک قامونه اوسي
د آزادۍ لاره کې سر ورکوي

تاکې سرتيري اولسونه اوسي
ستاپه دې بنکلي سردرکې به تل
دخپلواکۍ جنډه اوچته ساتي
پردښمنانو به لمبې بلې کړي
تابه له هرغم او آفته ساتي

۱۰/۱۰/۱۹۸۴

قلمه!

قلمه لږه مې دسوي زړه ژړا وليکه
زما اهونه او ويرونه واويلا وليکه
ديتيمانو ترمې اوبنکي چې تل څاڅي به ځ
دکمونيزم بربريت او ناروا وليکه
کونډې او وزارې اسويلي کوي له ويره غمه
ترخې کيسې زما دملك دكربلا وليکه
په هره خوا کلو، کوڅوکې دې باران دوينو وليکه
دسرو بو څونو قتل عام ظلم وتعدي
له هره کوره جنازې دشهيدانو وځي
ولې خاموش يې دا دظلم انتها وليکه

ساوسي ليوان ښه مونږه وينې په جامونو ښښي
چه مېچنې د دې سرې وحشي بلا وليکه
د سره وحشت د سرو بموتو لمبې هيرې نکړې
والي نصرت د دې ستم په باب بيا بيا وليکه

څه غواړمه ؟

زه بشريت ته انساني ښکلي ښروندون غواړمه
د ظلمتونو او تيارونه يې خلاصون غواړمه
چې ظلم زور جنګ وجګړه پکې هيڅ ځای نه لري
نيک تفاهم کې احترام هسې سمون غواړمه
سوله وروري جوړ امنيت ښه همدردي اووفا
ټولې ښرې باندې حاکم داسې قانون غواړمه
ټول انسانان دې سره يوشي لکه ورونو غوندې
له ځانځانۍ اوانزواځينې بيلتون غواړمه
که په يورپ که امريکا که افريقا کې اوسي
د جهانيانو يو تر بله پيوستون غواړمه
د تور او سپين عرب، عجم ترمنځ توپير چې نه وي
والي نصرت د ورورولۍ داسې تړون غواړمه

پر ادبي کمزوري او معنوي نيمګړتياوو ستر ګې پټې کړي او ما ته د هغې ښښنه وکړي.
په افغانستان کې د يو سوچه او رښتيني اسلامي حکومت د جوړېدو او د روان اسلامي انقلاب د بشپړ بريالیتوب په هيله.

په ډېره مينه او درنښت

امان الله نصرت.

دهرات پاڅون

د هرات ننګيالي جګ شول په ميړانه
پر دښمن باندې يې جوړ کړل خزانونه
د شيطان ټولي يې ټول ټوټې ټوټې کړل
پر مړه پوځ باندې يې بل کړل مړه اورونه
د ليننِ بچي يې وسيزل په اور کې -
هرې خوا نه د تکبير راتلل غبرګونه
ملحدانو ته معلوم د ايمان زور شو -
پرېږدې وړ تلل چې مؤمنان خالي لاسونه
افغانان د خدای په مينه باندې مست وو
ټو يوله يې د حق په لار کې وينه
په مسکو کې په دښمن جوړې لړزې وې
شول ناکام يې ميګ او جيټ، توپ او ټانکونه
ای نصرت د ايمان په مقابل کې
نه ټينګيږي د کفار وکړې صفونه

۳۰/۲/۱۳۶۲

افغان یم

د غرې په پاس آسمان ختلی لمر یم
تیت مې مه بوله د بشمنه اوچت غر یم
تاریخونه مې شاهد د کار نامو دی
زه فاتح د هر میدان او هر ډگر یم
دا ایمان زور مې ښودلی دی غلیم ته
چې هیڅ الره تیت نه شو هغه سر یم
د مغلو تاړکونه مې مات کړي
هم په زړه باندې لوی داغ د سکندر یم
پرنگیان لا په لړزه کړځي تر اوسه
د چنگیز مخه مې ونیوله سنر یم
د روسي ښکار ته ختلی یم افغان یم
اصفهانه پورې تللی په ظفر یم
پر دیلي باندې مې کړې سلطنت دی
سومنات مې دی مات کړی زړور یم
سره پوخونه مې هم وسیزل په اور کې
قربانۍ ته راوتلی د خپل سر یم
ای نصرته سر مې لاس کې دی نیولی
تېنګ ولاړ یمه زه ځکه بر هر سنگر یم

۱۲/۵/۱۹۸۴

مجاهد ته

ای مجاهده دایمان له ولولـــونه ډکــه
د شهادت له احساساتو او جذبونه ډکـــه
گوره دښمن دي وار خطا دی د رنه خلاص چه نه شي
کړه هرم دښته يې له مړوله قبرونه ډکه
نصرت او فتح دي نصيب ده چې بې واره نه شي
کړه د دښمن خوله بياله خاورو او ايرونه ډکه

ستا انقلاب د نوي ژوند او سبا وون زيري دي
دا ستا جهاد تشکيل ولسوته د خلاصون زيري دي

د سرو لښکرو پر صفو بنو قيامتونه جوړ کړه
په وينه څکونکو شرمښانو تتوپانونه جوړ کړه
د تيښتې لار ده ترينه ورکه گوره پرې يې نه دي
پر استعمار باندې د هوی خزانونه جوړ کړه
د سمرقند او بخارا د ازادۍ لــپـاره
په سره مانۍ کې د سرو وينو سيلابونه جوړ کړه

چې تر مسکو پورې پرېنږدي تښتيدلی دښمن
دغه ناکام په کونډو شوی شرميدلی دښمن

د تورو خاورو غيږ کې ښخ کړه د روسانو بچي
د کمونيزم او الحاد د پيروانو بـــچي

د لښتنيز م او ماښ کسيز م سلسلې ختمې کړه
په اور لمبو بانديې ستې کړه د د هر يانو بچې
د کران هيواد دښتې ، ميرې د دوې په وينو سرې کړه
د امو غيين کې کړه لاهو د فرعونيانو بچې
وايي نصرت دازادۍ رنګين بهار را ولــه
اې مجاهده ته تور وشپو ته سپين صبا راولـه
۸/۱۱/۱۹۸۴

غزل څه وليکم؟

زړه مې ډک دی له غمونو غزل څه وليکم؟
ژوند مې تيريږي په آهونو غزل څه وليکم؟
ليونی زړه مې ليونۍ غوندې په خيالونه کوي
د دې شليدلو ګريوانونو غزل څه وليکم؟
رقيب په لاس کې ګوري غشی د ستم نيولی
د تورو شپو ترخو وختونو غزل څه وليکم؟
تپو تيارو مې په جونګړه غوړولې لمن
د سباوون په مشالونو غزل څه وليکم؟
سترګې مې ډکې له اغزو خوله مې له خاورو ډکه
يارانو زه پر محفلونو غزل څه وليکم؟
يارانو مانه د جامونو غزل غله غواړې

زه غمزده د شنو جامو ننو غزل څه ولیکم؟
زما په برخه ویر او غم دی خوب خند ا نشته دی
نصرته ستا د فرحتونو غزل څه ولیکم؟

دعا

په سنګر کې مو کامیاب ربه جهاد کړې
ګران هیواد مو له کفارونه ازاد کړې
د الحاد لښکرې غرقې په امو کړې
کمونیزم په نړۍ کې نامراد کړې
مونږ چې کړې د باطل په ضد قیام دی -
ته کامیاب مونږه په دې عالي مراد کړې
د اغیارو له منګولونه مو خلاص کړې
نیست انابود ټولې د کفر او الحاد کړې
ستا د دین بیرغ اوچت کړې په ټول جهان کې
د نړۍ کره کې ختم ښنو رفساد کړې
مستضعف د دغې ځمکې وارثان کړې
مظلومان خلاص له پنجرونه د صیاد کړې
نصرت وایي افغانان تا ته شرمېږي
ته پخپل فضل نابود د وخت شداد کړې

۸۵/۳/۴ ناصر باغ

شنې جنډې

دایمان په څواک دا ده یم سرلوړی زما مضمون دی
ګوري نه په تشو لاسو مې مات کړې سورکمون
چې شکست یې نه منلو ما مات کړي هغه زور دی
چې مغرور په توپ او ټانک و ماسیزلې بخیل اور دی
چې په جنګ کې جنګیالي وُ کیڅو باي که ویتنامي وُ
نن دهغو ور رور و په صفونو کې ګډ شور دی
سر به سروغ کوم ته یونسي دوتري ورک دخپل خلاصون دی
دایمان په څواک دا ده یم سرلوړي زما مضمون دی
هغه فوځ چې په نړۍ کې په لړزه تر یته انسان وُ
چې په جنګ کې دیر ما هر وُ هر دکر کې قهرمان وُ
چې چکیان یې وُ دا ړلي، هم فاتح پر ترکستان وُ
ورسره ښهري وسلې وې، هم دجنګ ټوکسامان
نن یې ما سره سنګر کې بر خه شوی زړه چاودون دی
دایمان په څواک دا ده یم سرلوړي زما مضمون دی
زه هغه غیور افغان یم چه په سر وینو لوبیږم
له توپو او ټانکونو، طیارو نه نه ویریږم
د تکبیر ناري وهمه دسنګر په لور روان یم
د توپان غیرږي ته دا نکم په توپان نه حصاریږم

ماکفن سرنه ترلې د برې به لور مې تلون دی
دایمان به څواک داده یم سرلوړی نامضمون دی
سره فوځونه د سره کار د به میدان کې تار به تار کړل
څه مې حوړند له غوبرو کړل څه به کانو مې سنګسار کړل
لا رترې ورکه ده دېښتې به راتګ بانده پښیمان دی
دېر بد مخې سره روسان مې لکه خره غونډې مردار کړل
شنې جنډې هرخوا رپېږي ای نصرته سبا ورون دی
دایمان به څواک داده یم سرلوړی نامضمون دی

۱۲ رمضان المبارک د ۱۴۰۴ هـ ق

سور ماښام

ته چې راغلې له مسکوته سور ماښام شو
پوه شوم پوه شوم توره خاورې دې انجام شو
د تره کي او لعين په لاره روان دی
افغانانو ته معلوم ستا تور مرام شو
په کوټک او په توپک مومنان وژنې شو
توپ او ټانک دې هم سوغات شوم پېغام
تا دخپل بادار په امر هر څه وکړل
ځکه نوم دې شاشجاع نه هم بدنام شو
په تاريخ کې به په بد نامه یادېږې
ای نصرته چې د نور وخوک غلام شو

قطعه

نه مومن یم له اسلام ځنې فدا یم
په دې لاره کې مرګ او درد نه بې پروا یم
که غلیم مې سر ولمبو ته ور ګوزار کړي
د احد ناري به جهر باندې وایم

دسلګو اختره

د کنډې له شنه له مانځه د سلګو اختره
مه راځه ای د ژړیدو اختره
ای د درد و نو، کړاو و نو اسویلو اختره
مه راځه ای د ژړیدو اختره ٥

موږ د روژه شي وحشت له لاسه په لمبو کې اوسو
په خپلو وینو کې لت پت یو بې سر هر و کې اوسو
بې کوره کرځو در په در خاورو ایرو کې اوسو
زموږ په برخه شهیدې دي د لمبو اختره
مه راځه ای د ژړیدو اختره

هر ځای کې بل دی د یارانو محفلونو کې اور
وبرا و سلګې دي هره خوا کلو کورونو کې اور
زما د ملک په سر درو او چمنونو کې اور
اورونه بل دي د ماتم د سوځیدو اختره
مه راځه ای د ژړیدو اختره

ته بیا راځه د تور شپه ده هیڅ رڼا نشته دی
خولې مو په وینو باندې سرې دي هیڅ خندا نشته دی
غم او ماتم دی د خوښۍ هیڅ تمنا نشته دی
خله راتلې به موږ د تور تورو شپو اختره

مه راځه ای دژړيدواختره

هوښ د ستم په اور سوځيږ وفريادونکو
په ځيګلو ويښوکي ترنيږ وتل اهونکو
شاوندي په خاورو کي خښيږ وموږ ويرونکو
دستمونواو آهونو فريادو اختره

مه راځه ای دژړيدواختره

ښ په سرو ويښوکي دپيغلواوربلونه سره دي
ځوانان په سرو ويښو لمبيږي دښتي غرونه سره دي
لوی اوواړه په ويښو سره، کلي کورونه سره دي
دغم ځپلوکړيدلوبې کسانو اختره

مه راځه ای دژړيدواختره

خولي موخندا ته جوړي نه دي له ايرونه ډکي
سترګي موکوره چي غليم کړي له اغزونه ډکي
دښتي ميري شوي شهيدانو له قبرونه ډکي
دسوو ساندو، حسرتونواودردواختره

مه راځه ای دژړيدواختره

دلته په وچو سپيرو دښتوکي ځواران پراته دي
وږي نهر په تن برښه خوار او پريشان پراته دي
کوري لي نه چي کونډي وراړي يتيمان پراته دي
دسورانګرسور نغري سره کنډواختره

مه راځه ای دژړيدواختره

د مجاهد غږ

سر مې لاس کې دی نیولی کړې قبول یې ستا په در کې
ستا رضا لپاره به تویوم وینې سنګر کې
په تش لاس د کمونیزم سره ښامار سره جنګیږم
ما د حق سنګر نیولی استعمار سره ،، جنګیږم
د سرو وینو رود نیل کې به لاهو د وخت فرعون کړم
ستا په لاره کې خاونده هر غدار سره جنګیږم
توپانو نه جوړومه بُت خانو د هر آذر کې
د باطلو سره وران یم زه پتنګ د حقیقت یم
د الحاد اصلي دښمن یم مخالف د دهریت یم
د جهان په مخ به ختم کمونیزم او فساد کړم
یم وتلی قربانۍ ته اُمید وار د شهادت یم
پاک قرآن حاکمومه د نړۍ په لراو بر کې
ستا رضا لپاره به تویوم وینې سنګر کې
قرباني ده راته پاتې اسمعیل نه په میراث کې
شهادت زما شعار دی مرګ نه نه یم په وسواس کې
توپ او ټانک سره جنګیږم د ایمان په ځواک داده یم
د جهاد سنګر ته ځمه په ښه مینه سر په لاس کې
قیامتونه مې پراته دي غږ د الله اکبر کې

اختره مونږ کره ماتم دی سرودونه نشته
په وینوسره دي ولسونه فرحتونه نشته
ښکلي جامې اوپه نکریزو سره لاسونه نشته
ستړکې مړه کې دي دظلم له اغزو اختره
مه راځه ای دژړیدو اختره

اختره مونږه خواوسینه د لمبو په لمن
اوسوپه د ښتو په میروکې داغزو په لمن
اوښکې مونڅاڅي له کریوانه داسویلو په لمن
څه غواړې مونږ نه دماتولو قصرو اختره
مه راځه ای دژړیدو اختره

کونډه او وراړې په قبرو د شهیدانو ژاړي
د کربلا په سویو سویو ښتګانو ژاړي
غواړې بابا، میندې په حال دیتیمانو ژاړي
اوښکې ... بهیږې په شلیدلو کریوانو اختره
مه راځه ای دژړیدو اختره

د سره ښامار په مقابل کې جهادونه کړو
تاته او نګارنه یو اختره مونږ جنګونه کړو
کوره په سرو وینو لوبیږ و غو رځنګونه کړو
یوخیل خلاصون لپاره ناست په سنګرو اختره
مه راځه ای دژړیدو اختره

لاړشه هغو ته چې دګلو ګلستان کې اوسي

لا به شه هغوته چې انزاد څمکه آسمان کې اوسي
چې د هوس او خوشحالیو به جهان کې اوسي
مونږ نه بو هیر و به خندا او خوشحالوا خترو!
مه راځه ای د ژړید واختره

اختره مونږ کره بې وینو بل سوغات نشته دی -
او ر دی او ویر زه مونږ په برخه خو ږ حیا نشته دی
دلته سپرلی ، دلته اختر، دلته برات نشته دی
زړونه مومات ، ژوندون میرات د کړید واختره
مه راځه ای د ژړید واختره

چې ازادي نه وي اختره خوب خندا به څه کړو
چې خپلواکی سره رانه شي وایه تا به څه کړو؟
تا خولا څه چې دا ژوندون او دا دنیا به څه کړو
په بل وطن کې به دې څه کړو د پردو اختره
مه راځه ای د ژړید واختره

چې مو نصیب شي حریت بیا به جشنونه کوو
په ډیره مینه به یو بل ته تبریکونه کوو
کال به کال څه چې هره ورځ به اخترونه کوو
جو ربه سپرلی شي د نصرت به سر د رواختره
مه راځه ای د ژړید واختره

۸۵/ ٦/ ۱۰ ناصر باغ

د کوډاکو جرګه

لویه جرګه د لویو غلو جرګه ده
د خوبږو خودرو بلو جرګه ده

دا د باډار په قوماندې جوړه شوه
د کریملین په اشارو جرګه جوړه شوه

ورو زړه ور دقام پاڅون کړی دی
بوه شرمه دغه د پردو جرګه ده

دې یکې تولې خوخایني خیرې
د غدارې او د سیسو جرګه ده

د مرئیستوب کړي په غاړه کړي
د خوخائینو کوډاګو جرګه ده

افغانان بول په بل وطن کې اوسي
حیرته نو دا د پرګنو جرګه ده

د پسرې مانۍ د درباري لاسپوڅو
د خلق پرچم د توطئو جرګه ده

د ولسو پوغولیدو لپاره
پرچمائیو د پردو جرګه ده

د خوبد نامو هواشو خلکو

دجل فریب او چلو تو جرګه ده
نصرت ده دا د غلامی جرګه ده
د لیمن بُت ته د سجده و جرګه ده

د توحید بیرغ

سر او مال می د خدای لاره کې قربان دی
له باطلو سره جنګ زما اعلان دی
د توحید بیرغ به پورته په نړۍ کړم
په یوه لاس می توپک بل کې قرآن دی

د غم کیسه

«زه بابه ستا په هر یو تار کې د آدم کیسه ده»
زما به برخه تورې شپې دي د تور ستم کیسه ده
داور لمبې می ساځوری دي په درود وطن
کانې او بوټي په او رسوځي د ستم کیسه ده
چاته بنکاره کړم د درمن زړه کې بې ضمیر دلغونه
له درده ډکه می د ژوند د هر یو دم کیسه ده

اسمانه لر خومهربان شه څه بدلون راوله
کوره قسمت کې مې په غم لېږې د غم کیسه ده
خیرې کړیوان مې تار په تار شو د رقیب له لاسه
ده
خوم غمناکه مې داو بنکواو دنم کیسه
نن د مظلوم افغان په خونه سرې لمبې بلې دي
هر خوا اوردی داهو نواو ماتم کیسه ده
د وخت چنګیز توره ایستلې ده مرګونه کوي
وینې بهیږي په ویالو، د توپ اوبم کیسه ده
آه وزګیروي دي بې وسه او لټش لاسي انسان
کیسه ده
وزل، سیزل د سره وحشت د هر قدم
د کمونیزم کاغذي او نهرجن ګلونه
خیالي جنت یې کار کړا نوته د چم کیسه ده
کورونه ګور، کالی کفن، ډوډۍ د خاورو معنی
دا د مزدور او زحمتکښو د کرم کیسه ده
د نړۍ خلکو راشۍ حال مې د وطن وګورۍ
کیسه ده
جور قتل عام دی دا د سره د د پیر کرم
وړدي په دوستۍ کې ولسونوته د بنکیل د امونه
لاس کې یې توره ده په خوله یې د مرهم کیسه
ده
نصرته لر په ترینه نوره هم پرده پورته کړه
وطن پلورنه غلامي د خلق پرچم کیسه ده

بیرته ځم

نه د څو ورځو میلمه یم بیرته ځم
که خوشحال یم که خفه یم بیرته ځم

هیڅ عزت او قدر نه غواړم له چانه
پروت په دښتو په میره یم بیرته ځم

نه یو څاڅکی د شبنم یم پلیتی نه یم
تر لمر څرک پورې دیره یم بیرته ځم

لا روی یم یو څو ورځې تیروم
هسې نه چې همیشه یم بیرته ځم

هغه گل یم چې اغزی سره نښته
د سحر خوږه وږمه یم بیرته ځم

نه د چا پر اوږو بار یم نه څه غواړم
د تاریخ یوه صفحه یم بیرته ځم

سور سنا مار سره په سر او مال جنگیږم
په سنگر کې په جگړه یم بیرته ځم

گران وطن له غلیمانو پاکوم
بس د تلو په اراده یم بیرته ځم

د پیړیو میلمه نه یم چې به پروت یم
نه نصرت کومه شیبه یم بیرته ځم

اسلامی انقلاب

دا انقلاب د کمونیزم سلسلې ختموي
د استعمار او بربریت تولې ریښې ختموي

دې انقلاب کې د نهضت نوی مضمون وینمه
له ویښو خښونکو، د مظلوم قشر خلاصون وینمه
د دې راتلونکي بشرته خوږ ژوندون وینمه
سپینه رڼا لوی تحول او اوښتون وینمه
دا به د کفر او الحاد تورې تیارې ختموي
د استعمار او بربریت تولې ریښې ختموي

دا به له ځان سره انسان ته نیکمرغي راولي
دا انقلاب به دې نړۍ ته ترقي راولي
دا سعادت او سوکالي هم خوشحالي راولي
ښکیل ولسونه حریت او ازادي راولي
د غلامۍ او اسارت ورځې او شپې ختموي
د استعمار او بربریت تولې ریښې ختموي

دا انقلاب به ورانه خونه د انسان جوړوي
په دې نړۍ به حکومت د مسلمان جوړوي
د خدای ج له حکم سره سم به دا جهان جوړوي
په دې نړۍ کې به حاکم د رب قرآن جوړوي
دا د مارکسیزم لیننزم هفکورې ختموي

داستعمار او بربریت تولې رېښې خڅوي

دا انقلاب نور روتیا روته دسبا زیری دی
دسباوون، نوي سحر او درڼا زیری دی۔
په دې رڼاکې په انسان د حق منزل ته رسي
دا د باطل مهلک مرض ته د دوا زیری دی
دا به د خدای د دښمنانو نوبت خاني ختموي
داستعمار او بربریت تولې رېښې خڅوي

«شاعر ته»

ای له غیرت او ولولو نه ډکه
دا زادې له ترانو نه ډکه
دظلم زور او د وحشت بدې ننه
هیني خلوص او له دردو نه ډکه
پر آزادۍ او حریت مینه
د حقیقت خوږ ونغمو نه ډکه
دګران هیواد د سره وشاعره
هله بیدار شه له خوبو شاعره

پیاله لمبو نه ډک نظمونه جوړ کړه
په بد غوښتونکو خزانو نه جوړ کړه
چې دغلیم زړګی لمبه لمبه کړي
د سرو مسکرو تو بارانو نه جوړ کړه
چې هر یو خاشکی دې یو بم شي وروته
له قهره ډک یو څو شعرونه جوړ کړه
دښمن ستي . . . کړه په لمبو شاعره
دګران هیواد د سرو شاعره

پر دښمن بیا داور باران راوله
پر سرو ګلو نوبې خزان راوله
داور بحري پريې را اوروه
په سره ماڼۍ ورته توپان راوله
په تند ریز وهیت ناکو شعرو
وربانديې تند رد اسمان راوله
ای د مور ځل او سنګر وشاعره
دګران هیواد د سرو شاعره

د سنګرو نو ځوانانو پاروه — د خدای د لارې غازیانو پاروه
چې په سرو سانو قیامتونه جوړ کړي — له سرنه تیر افغانانو پاروه
چې په مسکو کې سرې لمبې بلې کړي — ژر خدای پرست مؤمنانو پاروه

راوله زړونه په جذبو شاعره
د ګران هیواد د سرو روشاعره

تا ته وایم

ستا خبرې نورې د سنګر خبرې نورې دي
لا بېرشه له سنګره د دفتر خبرې نورې دي
مینه د یار ځینو کې قربانې غوارې پتنګ غوندې
لش په وینانه شي د دلبر خبرې نورې دي
ناست یې پلنبورکې او دعوې د شهادت کوې
خدای ین وچې لالیه د ډګر خبرې نورې دي
تو له شپه خوبونه د اسلام د خلافت وینې
وګوره کړیوان کې د عمر خبرې نورې دي
ځان د رته آئینه کې د زړه ورې غوندې پېرسکارې
غشو د غلیم ته د تېر خبرې نورې دي
نه ورځې جهاد ته ځان وارث د پیغمبر کنې
ستا عمل جدا د پیغمبر خبرې نورې دي
دلته که هرڅه کړې ځان به دروغو تیر ولې شي
هلته ای نصرته د محشر خبرې نورې دي

دکونړ سیند ته

... د ... ړ مسته سرشاره سینده
بیا دی ... غیرتي تو پانونه وینم
له ... شهره غرمبېدلی ښکاري
ستا په سینه تل سپین ځګونه وینم

پوهېږم ستا دومره غضب په څه دی
داسې بې واره چې موجونه کوي
د سرو لښکرو تباهي لیاره
په ډېر شدت تل غورځنګونه کوي

له قطبي دښتونه راغلي خرسان
په خپله غیرتي د مرګ خواته بیایې
مستي چې دي چې موجونه وهي
ته غلیمان بلې دنیا ته بیایې

ستا شور او ځوږ په دښمن اوربلوي
تا ځمکې تل ته ډېر ټانکونه یوړل
څکه غلیم درنه په ځنګ تیرېږي
تا یې د سره کارد سره پوځونه یوړل

ستا دي بې ساري شهامت ته سلام
ای غیرتي غرونه روانه سینده

ستا رضا لپاره ربه تویوم وینې سنګر کې
بت شکن د زمانې یم د دښمن زړه ته انګاریم
نه ویریږم سرو لمبو نه چې روان د حق په لاریم
که سکروټې مې په خوله شي بیا به هم په زوره وایم
مسلمان یم مسلمان یم تلینګ به تل په دې شعاریم
د خدای ج مینه مې پرته ده په رګونو او ځیګر کې
ستا رضا لپاره ربه تویوم وینې سنګر کې
دا جهان له کوونږم او هر ایزم پاکومه
د اسلام روڼې دیوې لې په هر لوري رسومه
ماییل کړې د الحاد او د باطل په ضد جګړه ده.
حکومت د یوالله ؟ به په نړۍ کې جوړومه
د اسلام مشال به بل کړم د دنیا په بحر و بر کې
ستا رضا لپاره ربه تویوم وینې سنګر کې.
نه اتل د زمانې یم نه فاتح د هر میدان یم
نه زمرې یم نه کیالی یم په نړۍ کې قهرمان یم
سرلوړې او سربازې ده له ازل نه خدای راکړې
وروسته نه ځم مخکې کیږم مسلمان یم با ایمان یم
شهادت د مؤمن یت دی مرګ مې خوښ نه دی بستر کې
ستا رضا لپاره ربه تویوم وینې سنګر کې.
په سرو وینو به سمسور کړم د وطن د بڼې داګونه
ګران هیواد کې به پرې نږدم د روسانو قدمونه

د ښمن دي بولي خونړي سمندر.   ۱۰/۱۰/۱۹۸۴

د افغانانو قهرمانه سیند

«اهونه»

په نصیب مې شول اهونه په ژوندون کې
خوږم داور پرمخ تالونه په ژوندون کې

ظالمانو چې د دار پر تخته سپورکړم
غوغوي مې خپې لاسونه په ژوندون کې

د ژوند حق مې غصب شوی واک مې نشته
پټه خوله کوم فکرونه په ژوندون کې

ای طبیبه لږ مې پټ زخم ته گوره
خوږم په زړه باندې داغونه په ژوندون کې

د ژوندون تمه مې نشته ای نصرته
کوي مرگ راته گوابنونه په ژوندون کې

وسوځیده

وطن مې د وحشت په سرولمبو وسوځیده
هر لور د کمونیزم په بمو وسوځیده

تباه مې شول فصلونه هم تباه کلي بنارونه
تاتوبې مې د روس په غرغرو وسوځیده

گلشن اغزي اغزي شو سره گلونه پاني پاني
بلبل د گلو خواکې په سلګو وسوځېده

د مینې امتحان دی افغانان په اور سوځېږي
پتنګ غوندې چې شمعې ته په بنسپو وسوځېده

داور رلمبې خورې دي لوی و اره پکې وریتیږي
زړګی مې په سکروتود جاز و وسوځېده

غلیم ته بې هرګز د تسلیم سر و ربنکته نکړ
هرځوان مې په زندان کې په لبنتو[۱] وسوځېده

نصرت خیر ګریوان د پلینور د بنستوکې اوسي
د مینې خوږ مسکن یې په توپو وسوځېده

نصیحت

څوک چې وي د دین وطن دښمن نو بې الله وهي
توره به لا لا وهي مړي به عبدالله وهي؟

پام کوه ملګرو دوه رنګي کې هیڅ وفا نشته
هر کار کې صادق اوسه اسلام کې هیڅ ریا نشته
مُحمد د خدای ع به لاره کم منزل ته رسیدل غواړي
مه ځه د شیطان پسې هغه لارکې بقا نشته
وي به منافق چې هم هغه وهي هم دا وهي
توري به لا لا وهي مړي به عبدالله وهي؟

۱ :- د پت او غیرت په معنی

هغو پسې د روهي چې د خپل دين خدمتگار وي څوک
محشر کړي هغه چه ستاسې غم نه خبرداروي څوک
وې کړه بيعت چې تل روان د خدای په لاروي څوک
مه پرېږدی ميدان کې چې ظالم، خائن غداروي څوک
د پردي کمکيان د قام جيبونه تل په غلاوهي
توري به لا لا وهي مړي به عبدالله وهي

ودرېږه وروره په بنتيني مسلمان پسې
څوک چې اقتدا کوي په دين او په قرآن پسې
حق وايه حق ستا په حقيقت نه چې منکر شې
راسي به منزل ته که سپي غاپي هم کاروان پسې
وهي
ورک د جرگو غل شه چې د دين په نوم دنيا
توري به لا لا وهي مړي به عبدالله وهي

ورک به هدايان کړي حقيقت درنه منتره
ستړگې به دې پټې کړي د مکر په دفتره
خپل انجام ته وگوره غافله نشې هيڅکله
ځان نه کړې ملگرى په محشر کې دجال خره
څوک چې شي غافل نو پرتندي به خاځاوهي
توره به لا لا وهي مړي به عبدالله وهي
څنې لرې مينه بنه موتر بنگلو قصرو سره
چالاسونه يو کړل به د الرولو پر دو سره

چاجوړ کړي چل دی په دولت او په پیسو
څوک گوري لوبې بې له شرابو له پیالو سره
دېر زمونږ په وینو تل شراب کباب حلوا وهي
توره به لا لا وهي مړې به عبدالله وهي
ورور مسلمانه چې بري نږدې دایمان لاره
ریښي به هدف ته که کړې تېنګه دقرآن لاره
پام چې د دښمن په دسیسو بانډې دوکه نه شې
دېرو ده نیولې دابلیس لعین شیطان لاره
دېر ناره په دروغو لا اله الا الله وهي
توره به لا لا وهي مړې به عبدالله وهي

مرګ مرګ مرګ

مرګ دشوروي په ایجنټانو مرګ مرګ مرګ
مرګ دکمونیزم په حامیانو مرګ مرګ مرګ
ناست چې په چوکۍ وي او دبل چا غلامي کوي
دوه روبلو لپاره چې دنورو نوکري کوي
واک اختیار دبل وي تش په نوم چې واکداري کوي
مرګ په دې بې دینه واکدارانو مرګ مرګ مرګ
مرګ دکمونیزم په حامیانو مرګ مرګ مرګ

تل کوي کارونه د ولس او رعیت پرضد
هر اقدام چې کړي د پرګنو او د ملت پرضد
وي چې هر یو کار یې انسان انسانیت پرضد
مرګ په فاشیستی سر د مدارانو مرګ مرګ
مرګ دکمونیزم په حامیانو مرګ مرګ

سیمه او بزی کې چې ظلمونه او وحشت کوي
وژني ولسونه دښمني او شرارت کوي
غواړي پر اختیا مدام تیری پر بل ملت کوي
مرګ دکریملین په واکدارانو مرګ مرګ
مرګ دکمونیزم په حامیانو مرګ مرګ

خدای ته منکر دي د قرآن مخالفان دي دوی
زومد د وحشت غواړي دمارکسیزم پیروان دي دوی
حق سره تضاد دي په باطله لاررروان دي دوی
مرګ دوی نصرته په روسانو مرګ مرګ
مرګ دکمونیزم په حامیانو مرګ مرګ

۲۰/ ۱۱/ ۱۳۵۷
- ننګرهار

ته څوک یې؟

ستا د سترګو په مات کچکول کې د ژوندون رازونه وینم
ستا د نکریزو غوندې ګوګل کې د خوښۍ ډېرې اسرې دي
ستا په وچو سپېرو شونډو کې رمزونه د مسکا دي
ستا د سترګو په ګرداب کې د تودو اوښکو څپې دي
ستا د اتار په تار ګرېوان خو، حقیقت د لیونتوب دی
او د استا لیوني عشق کې، حکمتونه، فلسفې دي
ستا د ښېبو د غوټیو کوکې، منزل ته د تلو راز دی
ستا مایوس ساړه آهونه، د ژوندون یو ښکلی ساز دی
د ساحل په تمه تمه تو پانونو کې ګرزېږي
په لټون د خپل کاروان یې د ښتو غرونو کې ګرځېږي
له وحشته ډک تورتم کې، د ډېوو بلېدل غواړي
د ښتک په ځیر لېوا او، سرو او رو ښو کې ګرځېږي
ته ژوندون باندې مین یې د ژوند وخواږه ژوندون ته
خپل ژوندون قربانوي تل خزانو کې ګرځېږي
بس پوهېږم چې ستا لاره حقیقت ته رسېدل دي
د انسان دې ورانه خونې د شمعو بلېدل دي
سربېره لیونیه ستا فکرونه انساني دي
ته د حق د ښ بلبل یې ستا نغمې جاوداني دي

ته خیرخواه دانسانانو ته حامي دازادۍ یې
پر دښمن د بشریت دې کوزار و مرګاني دې
په سرو وینو لو بیدل دې ارمغان دخپلواکۍ دی
د باطل پر ضد قیام دی، داحکمونه آسماني دي انساني دي
نه اوس بوه شوم چې ته څوک یې په ښتیا عظیم
ته پتنګ د حقیقت یې حقیقت پسې روان یې

۱۳۶۲/ ۱۱/ ۳۰

غدّاره

د لته څو تنه لیوني عیاشان
څوبې هدفه ځواني عیاشان -
د انسان د وله حیواني عیاشان
دا ننې او بروني عیاشان

اوس هم هیلې چې چې عیشونه کوي
څوم افسوس دی فسادونه کوي

دوی د هجرت ورځې اوښې هېرې کړې
دوی د مظلوم ولس ناړې هېرې کړې -
د شهادت پې قافلې هېرې کړې -
د یتیمانو پې سورې هېرې کړې -

خدای یې هیر کړي خیانتونه کوي
خارج ته ځي سیاحتونه کوي

هلته سلګۍ دي فریادونه جوړ دي
د سرولمبو منځ کې آهونه جوړ دي
هر ځای د سرو وینو ډنډونه جوړ دي -
په سمه وغر قیامتونه جوړ دي

خو دوی تسپې په لاس مکرونه کوي
ټګي، دوکې او فریبونه کوي

ای دردیدلو کړیدلو ورونو
په سرولمبو کې سوځیدلو ورونو
ای مهاجرو ربړیدلو ورونو
د حق سنګر کې جنګیدلو ورونو

ستاسې د مرګ پټ ترونونه کوي
دې انقلاب ته نن ګواښونه کوي

داد دالرو غلامان مه منی
دغه بد مسته شرابیان مه منی
په شرق او غرب پسې روان مه منی
د بنګالي زاره ټګان مه منی

دوی تل پر دوی ته خدمتونه کوي
بلې قبلې په لور لمونځونه کوي

۱۵/۱۱/۱۹۸۴

اوربوري شو

ښاپه ښاره او په رګونو باندې اوربوري شو
د بسرلي په سرو ګلونو باندې اوربوري شو
د بلبلانو هغه زړونه په اغزو خيري شول
چې په ګلشن او چمنونو باندې اوربوري شو
ها په ښاغلي کې ډيرې هيلې د ديدن درلودې
د هجر شپه شوه د يد نو نو باندې اوربوري شو
غليمه خو به په خپل ظلم او وحشت مغروريې
ستا له ستمه ډيرو زړونو باندې اوربوري شو
ماويل خان ته به دميني دنيا ګي جوړوم
يو دم محشر شو محفلونو باندې اوربوري شو
تورې تيارې دي را رواني يو تر بله پسې
د سباوون په مشالونو باندې اوربوري شو
کاڼي د بم مې ښاورېږي په محفل دميني
ښاپه ګلو او کورونو باندې اوښ بوري شو
د زړه اسرې مې هيڅ او جيت دخاورو لاندې کړلې
بنار او بازار هم په فصلونو باندې اوربوري شو
ماته خپل کور قصا بخانه شو فرياد و نه کوم
ډير معصومو بدنونو باندې اوربوري شو

د ژوندون ناوې مې د سرو وینو جامې اغوستې
حسن، زینت او سینګارونو باندې اورونه شو

د شهیدانو په سرو وینو لاسونه سره دي
ګودرې د پیغلو او ربلونو باندې اورونه شو

ځوانانو ډېرې هیلې یوړلې د خاورو تل ته
هسکو شملو د پګړیو ولونو باندې اورونه شو

په پاکه خاوره مې روسانو یرغلونه وکړل
سمه خوځه چې په ډاګونو باندې اورونه شو

د استعمار لمبې مې بلې دي په کلو، کوڅو
هم مې د ملک په دښتو غرونو باندې اورونه شو

واړه زاړه مې د نیپالم په بمونو وسول
کورونه وران شول په باغونو باندې اورونه شو

چا ته ښکاره کړم په باسوتو سوځېدلي تنې؟
یکې په پاکو امیدونو باندې اورونه شو

ځکه تبې غوندې سره شوې برې او رونه بل دي
هم په فضا او اسمانونو باندې اورونه شو

تبه، تیاره ده، د غم شپه ده، سپوږمۍ ورځ کې ډوبه
په وینو سره شول شفقونو باندې اورونه شو

د هاډې فارم کې نارنج د زهرو خوند اخیستي
هم په شیدو، مالټو، ګلونو باندې اورونه شو

سرو لمبوسره لوبېږم دمرګي په لاره روان یم
ماتوم سره څنځیرونه، تارکوبه، یرغلونه
دمرګ دار باسره نشته تینګ ولاړ یم په ډګر کې
ستارضا الپاره به تویوم وینې سنګر کې -

د تاریخ په مخ به بشکل کړم افسانې دغیرتونو
ولسونه به ازار کړم د بنګیلاک له څنځیرونو
شرق او غرب کې به وې سیورې د توحید د بیرغونو
په اموکې به لاهو کړم ککرې د سرو پوځونو -
روسي شوبلې دوبومه د سرو وینو سمندر کې
ستارضا الپاره به تویوم وینې سنګر کې

د مرې په خیر وردانګم د کفارو پر صفونو
انتقام د وینو اخلم د مظلومو ولسونو
په یو لاس کې مې ټوپک دی په بل لاس کې مې قرآن دی
بنیا دونه لړزومه د وارسا د ترونو
توره وال زماکانه ده کرارنه کېنیم د فتر کې
ستارضا الپاره به تویوم وینې سنګر کې -

د حمزه رض نښان قربان به سر په لاره د خپل دین کړم
زه به قبر کې خوشحاله روح د ستر جمال الدین کړم
د خوشحال د تورې شرنګ یم سپیلنې له نام او ننګ یم
مکناتن غونډې به خاورې ککرې د هر لعین کړم
آزادې مې ابتکل شوې ای نصرته په بستر کې
ستارضا الپاره به تویوم وینې سنګر کې

خوک به په مینه د «رتونو» داني څکه کاندي
غازي آبادکي به فارمونو باندي اوربوري شو
په «سخي جان» کي دمیلو په ځای مرګونه کیږي
د ګل غوندي «ارغوانو» باندي اوربوري شو
د «مهتر لام» میله بابه ده په خون اوکشتار
د نورستان په ابشارونو باندي اوربوري شو
مسلمان څه چي «هندوان» هم به ماتم اخته دي
د «سلطانپور» په ویسا کو نو باندي اوربوري شو
د «ماهیپر» ښه کوره یکي وینې څاڅي
هم د «سالنګ» په تونلونو باندي اوربوري شو
له «بریکوټ» نه تر «اسمار» سره اورونه بل دي
په «پیچ» دره او کونړونو باندي اوربوري شو
بنکلي «بګرام» ته دمرګونو قصابان راغلي
د «استالف» په کنډونو باندي اوربوري شو
په «دهمزنګ» کي د پرخوانان پراته په خاوروکي دي
«پلچرخي» کي د پرووونو باندي اوربوري شو
خوک به یکتیاکي دمیزرو قالینې جوړې کړي
د یکتیاکا کمنو ځنګلونو باندي اوربوري شو
«غور» که «بغلان» دی که «لغمان» دی په لمبو سوځيږي
هم د «میدان» په میدانونو باندي اوربوري شو
چي نر یوال به د «بامیانو» ننداري ته راتلل -

نن د تاریخ په موزیمونو باندې اورپورې شو

« هلمند » ستي « هرات » ستي « فاریاب » « تخار » ستي شو

د « سمنګان » په کوډامونو باندې اورپورې شو

« پنجشیر » ته ګورې سر دروکې یې اور ورته بل دي

هم د « پروان » د بنتو د اګونو باندې اورپورې شو

« فراه » په سرو لمبو سوځیږي « کندهار » سوځیږي

د « بدخشان » ښکلو لالونو باندې اورپورې شو

د « غزنوي » « غزني » خزان شو سرې سیلۍ دي پکې

د « افغاني » صفدر ګټو نو باندې اورپورې شو

پاکه « خرقه » ده کندهار کې نن په خاورو پرته

په مقدسو مکانونو باندې اورپورې شو

هغه لوګر چې په ګلونو به سمسور وُ مــدام

نن یې لاله او غاټولونو باندې اورپورې شو

د « کوردرې » سردارتې خزانې خاورې شولې

د « حاجي کک » لویو کانونو باندې اورپورې شو

په « ګلدره » « شکردره » کې نن ګلونه نشته

« انار دره » کې انارونو باندې اورپورې شو

ښکلي « کنډونړ » ته به په کومو سترګو وګورې څوک؟

چې یې په ښکلو محلونو باندې اورپورې شو

« ام البلاد » چې د لرغونې تمدن نښانګو وه

نن یې په دراو دیوالونو باندې اورپورې شو

د ,,هندوکش،، د سر شپونکی دغم شیبلی غږوي
د فیروزکوه په کړنګونو باندې اوریږي شو
د ,,کونړ،، غرونه دي سره شوي دشهید په وینو
هم د ,,پامیر،، د نکو بامونو باندې اوریږي شو
د ,,سلیمان،، په غر روښي زهري بموونه اوري
هم د سپین غر تر و، لخونو باندې اوریږي شو
د سیاه کوه، تیکې سرې شوي دسکروتو پشان
بیا د ,,بابا،، په لوړو غرونو باندې اوریږي شو
,,مرغاب،، په وینو کې غرقاب دی فریادونه کوي
هم د ,,هلمند،، په غورځنګونو باندې اوریږي شو
,,کوکچه،، له قهرنه غرمبیږي د دښمن په یرغل
د ,,کجکي،، لویو بندونو باندې اوریږي شو
د ,,فراه رود،، او د ,,خاشرود،، سترګونه وینې څاڅي
د ګران هیواد تولو رودونو باندې اوریږي شو
من د ,,کابل،، د سیند او به ګوري، دخپلو نه دي
د ,,درونټې،، ,,نغلو،، بندونو باندې اوریږي شو
د اموغیږه تکه سره شوه په خپو د وینو
د کوزې سیند په موجونو باندې اوریږي شو
کارګر بې کاره ٠ دربه درخاورې په سرګرځي اوس
په کارخانو هم په کارونو باندې اوریږي شو

د مزدورانو ځمکې سوځي د راکټ په لمبو
د زحمتکشو زحمتونو باندې اورېږي شو
که اهنګر دی که خټګر دی که د روزګار ومسګر
په هر کاسب هم په کسبونو باندې اوربوري شو
خانان يې ورک کړل غريبان لا په نس وږي ګرځي
د مزدورانو په مزدورو باندې اوراپوري شو
پرون رژيم د خلکو واني کړې ودانې ځمکې
نن د رژيم په فرمانونو باندې اوربوري شو
خان او غريب يې برابر کړ خوله خاورو سره-
د مساوات په پيغامونو باندې اوربوري شو
زن، زر، زمين، کمونستانو کړل شريک چلوکې
د خلق، پرچم په ناموسونو باندې اوربوري شو
د عدالت دعوه يې خه شوه هيڅ خبر ترې نه شوم
نن د انصاف عدالتونو باندې اوربوري شو
د جوماتونو ذانونو يې کيسې کړلې
د عبادت په مسجدونو باندې اوربوري شو
د دوی اعلان خو ؤ جهاد يې سوا ديه سره
په پوهنځيو، مکتبونو باندې اوربوري شو
تل يې په خوله چې د دوا او د شفا وعدې وې
نابالغ يې را ورولسونو باندې اوربوري شو

دکور پیغام ته یې بې کوره په اُمید کرځیدل
انجام یې داشو چې کورونو باندې اوربورې شو
د وړې یې راوړه خو مسکونه د بارونو د وړې
په وینو تن وملتونو باندې اوربورې شو
په کالو بوره شو چې کفن ته یې حاجت پرینښود
د تن جامو کې بد نونو باندې اوربورې شو
د سفارت بخوانې غل کورئ سردار شو د قوم
د جمهوریت په بنیاد ونو باندې اوربورې شو
عجیب ماشین دی خوردضابطانو لوی جنرال جوړوي
دعسکری په منصبونو باندې اوربورې شو
قحط الرجال دی وزیران هم شپږ پاس دي یکې
په افغاني وزارتونو باندې اوربورې شو
سرې فاجعې ته کودتا او انقلاب وایې دوی
د انقلاب په ارزښتونو باندې اوربورې شو
هشرا وکشر معلوم نه دی کلې وړې ده جوړه
په انساني کرامتونو باندې اوربورې شو
میا او ملا، سپین ږیری، هشرمر تجع بولې دوی
عجیبه وخت دی په وختونو باندې اوربورې شو
تور کمني سپین، سپین کمني تور هر څه چېدي یکې
دې انقلاب اما هیتونو باندې اوربورې شو

ادیب ، شاعر، اولیکوالان يې په برچوغلې کړم -

ځکه د علم په کډ رونو باندې اورپورې شو

شپې ته به ورځ ، ورځ ته به شپه وایې د دوی خوښه

نن په ښکاره واقعیتونو باندې اورپورې شو

فصلونه وسول ، ځکه وسوه ، کاڼې بوټې وسول

په کروندو او په کښتونو باندې اورپورې شو

روس پرستان روسي فرهنګ روسي کلتور راولي

د افغانانو تهذیبونو باندې اورپورې شو

باخه يې وخوړل او مه يې هم سکوته پورل

زمونږ په ښتوا وشروتونو باندې اورپورې شو

د قره قل او افغاني قالینو پته نشته

د تجارت په بازارونو باندې اورپورې شو

نن خاورو لاندې دي د فن او د مسلک خاوندان

د هنرمند و هنرو باندې اورپورې شو

کرهنه شنه ده ، مالداري او زراعت نشته دی

د کران هیواد په صنعتونو باندې اورپورې شو

د کمونیزم لمبې بلې دي هر څه سوځیږي

نن په لښن لاسو ولسونو باندې اورپورې شو

نن د ایشیا په زړه کې کوري کربلا جوړه ده -

په مستضعفو توکمونو باندې اورپورې شو

B
3.532
NAS
2643

دچاپ نیټه ۱۳۶۶ هـ ش
بیه (۶) روپۍ

لویه جرګه ! کې راتول شوي خوځاین بریځي
زموږ به پاکوتاریخونو باندې اوربوري شو
نصرته ! ته به کوم فساد دکمونیزم لیکې
ستا په قلم او کتابونو باندې اوربوري شو

وژړل

شمعې ټوله شپه کې د هجران راسره وژړل
خدایږو کانو، بوټو او بیابان راسره وژړل

نن وم او غمونه، اندیښنې د اوښکو دارې وې
سترګو خولا څه څیرې ګریوان راسره وژړل

اه د مظلومیت مې د فلک ګریوان ور څیرې کړ
ستورو په سلګو د پاس اسمان راسره وژړل

سرې لمبې خورې دي دوزخونه ترې پناه غواړي
اور د ظلم بل دی انس و جان راسره وژړل

سترګې د شفق نهاد زړه په وینو سرې شولې
دښتې، غرونه ژاړي کهکشان راسره وژړل

لا زړه ګلشن ته له اغزو مې لمن ډکه شوه
سوې ګل، بلبل او ګلستان راسره وژړل

خاورې مې وطن شو په بمونو لوټې لوټې شو
سرې سکروټې اوري ټول جهان راسره وژړل

دې ظلم ته خدایږو چې تاریخ ګوته په غاښ شولو
سترګو قلم مې او دیوان راسره وژړل

ما چې ای نصرته کلي کور او وطن پرېښوده
چغې شوې سلګې شوې زوړ او ځوان راسره وژړل

پاڅون

د توحيد په منارو کې د تکبير خوږه ناره ده-
سباوون د انقلاب دی آزادي د ژوند نغمه ده
د وحشت سکون مات شوی د تکبير خوږو نارو کې
د رڼو تورو شرنګار دی غرونه ډوب دي انګازو کې
د کمونيزم فوځونو سره اوروونه لګيدلي
د ټينګيلاك سره ځنځيرونه موشوخپوته په سجدو کې
زيات دور د اسلام دی ختميدونکې توره شپه ده
د توحيد په منارو کې د تکبير خوږه ناره ده
د طاغوت توري لښکري په آموکې لاهو کيږي
د ايمان په مقابل کښې توپ او ټانک کله ټينګيږي
سنګرونه پرې شاهد دي آسمانونه پرې شاهد دي
باطل تل د حق په مخ کې هر سنګر کې نسکوريږي
سور بيرغ به او رسوځيږي په ... پا د حق جنډه ده
د توحيد په منارو کې د تکبير خوږه ناره ده
د هيواد هره دره مې د روسي عسکر و ګور شو-
چې يې هوښ په اورسيزلو په سرونو يې بل اور شو
د مؤمن ملت قيام دی پرګنې راپاځيدلې-
د سره ګارد په سربازانو جوړه ماتم او د غم شور شو
سره ماڼۍ کې جوړه شوې ای نصرته زلزله ده

د زړه‌ونو د مستکبرینو د بریښو مرتجعو شاعرانو ځواب
ته بې ځواوه ، او چې اور زبی حسّان رض، په ځواب ځوله -
پرانیستله ، نو پیغمبر اکرم ص ، وفرمایل :
روح القدس د حسّان په شا به غږیږي (۱)
خبره . انه هغه دې ونیوه ، ویل مې : اچې قرآن کریم
خو د شاعرانو د هنري استعدادونو او د سپیڅلو هدفونو په بنسټ کې
په تبنه کې خوځې زړونه دي روان اسلامي انقلاب په
پهیرکې زړونه د هغو ځو مره ونده ده ؟
له امیر معاویه نه د شعر پوهنې روایت پاتې دی ، وایي :
شعر پوره لمسونکي او محرکه وینا ده ، چې ، انسان په
خوښي او غیرت راولي (۲) .
د انتعریف که له هره اړخه په ټول پوره هم نه وي
خو له موږ سره د موضوع په رڼولو کې لاس کولای شي او
په رڼا کې یې کولای شو د خپلو شاعرانو هغه ترسره کړې
انقلابي رسالت وڅیړو :
زموږ د اسلامي انقلاب په پهیر کې که تر راوښتي
مادي زیان تیرشونو د مادیت او دهریت په دې لیونۍ
او لالهانده دنیا کې زموږ د انقلاب پیلامه د معنوي -
استعدادونو د را ژوندي کولو لپاره یو ها تف او یوه آسماني
نداء ګڼل کیدای شي .

---

(۱) وګ : - د تیراه وږمې . (۲) وګ : - غږګه .

له کوم وراځې چې زموږ اتل ننګيالي او پر حق له سره تير اولس د بلوسگر مره بنکيلاک د انسان دښمنۍ پر خلاف توري ته لاس اچولی دی، زموږ دغو شهمنو او متعهدو شاعرانو ورسره جوخت د قلم شړې د خپلو ځيکرونو د ايشنده سرې وينې په مره رنګ لمدې کړې ديد او همغه څه يې پرې ليکل شروع کړل، چې اولس او تولني تري غوښتل. او همغه وې:

تل پاتې حماسې،

انقلابي ترانې،

اهوزانې (۱) اشلوکونه او شعرونه،

او اروا پالونکي زمزمې او شعارونه،

د اولس د دغو معالجوا و زخمور پالو شاعرانو په لړکې مو يوهم د کشري کول يوحساس او خوږمن څلمي بناغلي امان الله نصرت دی، چې د اوس جنو بموتو او زهر جنو - بنايو پر بې رحمه خاوندانو يې د شعرونو او شورونو د «اور» د اسې باران راکيستی دی، چې که د خپلو هم - بزمونداء او آهنگ ورسره همداسې غبرګ و، بيا خو همغه ورځ لرې نه ده، چې نصرت صيب پر خپل شو بلو او جنګيالي، اولس د زغمليو کړاوونو د نعم البدل - «خپلواکي» زيري وکړي.

۱- اروحانی عرفانی او مذهبی شعرونه

شني جنډې هر خوا پيري، اى نصرته سباوون دے
دايمان په ځواك ولاړه يم، سرلوړې زما مضمون دى.

❀

دنصرت صيب په کلام کي که دموضوع پر تکرار بسترې پيتې شي، نود فن په باب تې سرې په خرده وپيدا شي چي دنصرت صيب فن او فني شخصيت په هغه کنډه تلل — پکار دي چي زموږ دنور ځوانو شاعرانو ادبي کيفيت پرې تاله شي.

زه يې دهنري او ادبي ارتقاء په باب اشکال نه، چي يقين کرم، ځکه نصرت صيب ځوان دي، او ځوانانو ته هسې هم دلابرتګ لحه خلاصه وي، نصرت صيب ته دشاعرۍ نعمت نه په ميراث کي پاتې دى او نه پرې تحميل شوى دے او دچاخبره داوس سکروټې يې دچاله نغرې نه په سوال نه دي غوښتي، بلکې شاعرۍ يې دخپلې سر بريد لي او زجدلي او سوس ځاى تولي رهنمائى او علاج په توکه غوره کړې ده، نو چي په کوم فن کې ذاتي مذاق او خداى ورکړې — استعداد پراکراه، ترغيب او تحميل غالب وي، په هغې کي دبرتګ برې او ودې لبې له ورا بنکارې.

دنصرت صيب دفن پر ځرنګوالي او ږغاونه زيات څه ځکه نه ليکم، چي خداى مکرو پخپل عقيده وت تمندانه قضا کي تير نه وځم، او د دربنونقادانو دخاطر په ترو بلولو ورته

و

کوږ کوږی نشم.
نور نو دا تاسي او دا هم د نصرت صيب فن، نږ وله منځه وړم.

په خدای ج سپارلی.

محمد آصف صميم

۹ / ۶ / ۶۴

بخشي پل - پلينور

✻

دا وطن

امان الله "نصرت"

کال ۱۳۶۶ هـ ش

داو باران

UMCA
P. O. BOX: 33
G. P. O. Peshawar
PAKISTAN

امان الله نصرت

بسم الله الرحمن الرحیم

اهداء

داسلامي جهاد دهغو شهيدانو
سپيڅلوارواوو ته چې مرګ يې وواښه
خو په خپله مړه نه شول.

(نصرت)

حامداً ومصلیاً .

جوړ مې د شعر قتلمه کړه، خوتر خه ده
پټ پکې خوا بزه هم شته، که څوک یئ وخلکه
«حمزه بابا»

نه نقد او نه تقریظ

قرآن کریم د خپلو فطري سنتو له مخې د شاعرانو په باب یوه پریکنده پریکړه کړیده، چې له سره چاته دا پوښتنه او اندېښنه نه ده پاتې، او نه پریږدي، چې بیا په دې اسلام کې به د شاعر او د هغه د «فن»، «شعر» څوم ونړن وی؟

فرمائي !

«د شاعرانو پیروي هغه څوک کړي، چې بېلارې اوبې سره وي.. ، خکه شاعران، هغه څه وائي، چې نه ئې کوي ، مگر هغه کسان چې د «بشپړ» ایمان خاوندان ، او نیکان وي او خدای ئې ډیر ونمانځه ، او تر خپل مظلومیت وروسته ئې له ظالم نه کسات واخیست»[1]، که د دانې کسانو پر پله څوک لاړ شي ، نو حق لري،

---

[1] - د الشعراء د ۲۲۴ - ۲۲۷ ایتونو مضمون .

د قرآن کریم له دې دلبندی، او تقسیم نه او ښاربری چې د کومو شاعرانو په وینا او کړو، کې چې فاصله او واټن وي، هغوی نه یواځې پخپله، بلکې پیروان او لاروی هم بې لارې او بې سره دی، د شاعرانفرادي او اجتماعي شخصیت باید سره سمون او یو رنګي ولري.

شاعر باید د خپلو هنري تخلیقاتو، پر حقانیت او اجتماعیت مؤمن وي، یعنې تولنې او پرګنو ته، هغه هنري زیږونې او مولودات وړاندې کړي، چې ورته اړوي.

د کامنا تو تحقیق ښښتن په بیا بیا او پرله پسې «یاد» او. ښما غښنه وکړلای شي، د ټولنې ځپلې او نتلې پرګنې د استضعاف او مظلومیت له شړ ویري کندې نه راو باسي.

او بالآخره:

د همدغو ځپلیو او ځوریدلیو پرګنو له تحت الشعوره د زمانې د اهر یمنانو او مستکبرینو په وړاندې، د کسات انتقام، او حتی د انقلاب هغه ویده، عناصر «یرمخي» را و پاروي، چې د همدغې انقلابی او حماسه زیږ- وونکیو شاعرانو د نشتوالي له امله د مرګ او قنوطیت په دښته خوب ویده وو.

په اسلام کې د شعر او شاعرۍ د همدغه ارځښت له مخې وه، چې رسول اکرم «ص» پخپله د اسلام شاعر «حسان بن ثابت رض» ته منبر سماوه او اینبوده او